AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ګلاب شاه ګلاب ۲۰۱۸/۰۹/۰۵

# افراطیت، زیان او مخنیوی یې

د نورو ټولنیزو ښکارندو په شان افراطیت هم ښایي بیلابیل تعریفونه ولري او هرڅوک په خپل اند او انګیرنه د هغه په اړه اخیسته ولري، خو د ژوند تجربې او مطالعې پر بنسټ د افراطیت په اړه زما اخیسته اونګېرنه داده چې: «د بدلون له پاره د افرادو او ډلو په فکر او عمل کې شدت، نه زغم او زورزیاتی ته افراطیت ویل کیږي چې د ټولنیز ژوند بېلابېلو برخو کې راڅرګندېدی شي.»

افراطیت په بېلابېلو قالبونو کې تعریفېدی شي، ښایي د قوم پالنې، دیني او دین ضد ایدیولوژي، فلسفي افکارو، طبقاتي دریځ، سیمه ییزې، ژبنې لوړتیا غوښتنې او توکمپالنې په بڼه راڅرګند شي. په دې مانا چې یو کس یا یوه ډله خپل قوم، ژبه، توکم، سیمه، دین، مذهب فلسفه، ایدیولوژي یا بله ګروهه دومره په حقه، سپیڅلې او لوړه وګڼي چې ورته هیڅ بله هغه نه سیاله، نه په حقه او نه هم د زغم وړ او چمتو وي د خپل لوري له پاره د بل او هم خپله وینه تویه کړي او په دې لار کې هر ډول کړنه روا او پرځای وګڼي.

د افراطیت ستونزه او زیان په دې کې دی چې افراطي کس یا افراطي ډله هر څه په مطلق بڼه اوبد، دوست او دوښمن، تور او سپین، خپل او پردي، حق او ناحق ویشي درېیمه او منځنۍ لار یا حالت نه مني.

د بېلګې په توګه د نازیانو له نظره د جرمني توکم د نړۍ تر ټولو غوره او لوړ توکم دی او نور توکمونه تر هغه ټیټ دي نو ځکه خو باید د جرمني واکمني ومني له دې پرته باید له منځه یوړل شي، همدا انګېرنه او فکر او د دویمې نړیوالې جګړې لامل شو چې په پایله کې یې له پنځوس میلیونه زیات انسانان ووژل شول. دغه راز، د کمونیستانو له نظره یوازې د دوی ایدیولوژي سمه، علمي او په حقه ده، بل هر ډول فکر ارتجاعي، ناسم، بورژوازي او ولس دوښمنه دی او باید نابود شي. د همدغه فکر پر بنسټ په پخواني شوروي اتحاد کې ۵۰ او په چین کې ۷۰ میلیونه انسانان ووژل.

دغه راز، لرې نه په افغانستان کې کینو او ښي افراطیونو هیواد په داسې ناورین واړولو چې تر ننه له بې ګڼا افغانانو قرباني اخلي. کینو افراطیونو د پاکو جامو اغوستلو او لمونځ کولو دوی له اند جرم انسانان له خاورو لاندې کړل او ښي افراطیونو د ږیرې خرېیلو، د ښوونکې دندې درلودلو او ښوونځیو ته تلو د دوی له انده کفر له امله انسانان له غره راورغړول او یا یې په نورو بڼو له منځه یووړل.

له بده مرغه د افراطیت ستر او مهم مرکزونه هم پخوا او هم اوس اکاډمیک مرکزونه، د لوړو او نیمه لوړو زده کړو موسسې وې او دي.

همدا اوس د کابل پوهنتون په ګډون د هېواد ډېر پوهنتونونه د افراطیت پر مرکزونو او روزنځایونو بدل شوي دي. د ځېړنو له مخې د لوړو زده کړو موسسو کې د افراطیت خورېدو او پیاوړتیا لاملونه د ځینو استادانو افراطي لیدلورې، د رسمي او نارسمي افراطي ډلو فعالیت، په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو له حضوره د تبلیغاتي وسلې په توګه د ځینو رسمي او نارسمي افراطي ډلو ګټنه په تېره هغه وخت چې د دغو ځواکونو په عملیاتو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوړي، بې وزلي، ټولنیزه او اقتصادي نابرابري، د اعتدال خوښو کسانو تیت او پرک والی او اعتدال خوښو سیاسي سازمانونو نشتوالی یا کمزورتیا، د ښاري او کلیوالي کلتور او دود ترمنځ ټکر، د افراطي ډلو فعالیت او ان بهرنیو استخباراتي شبکو لمسون او ملاتړ ښودل شوي دي.

داسې مالومات هم ترلاسه شوي چې افراطي رسمي او ناقانونه ډلې په پوهنتونونو کې تر ډېره احساساتي او شرخوښي ځوانان چې ټول نه بلکې ډېر یې له کلیوالي او لرې پرتو سیمو راغلي جلب او د لارې مل کرځوي. دغه ځوانان چې له یو څه ناڅه ترلې او دودپاله چاپېریاله په یو څلي پرانیسي او ناآشنا چاپېریال کې ځان وینې، نوي چاپېریال ته منفي غبرګون ښیي په تېره چې دغه ځوانان له بې وزله او محرومو کورنیو راوتلي وي. دغو کسانو ته نجونو لوڅ مخ ګرځېدل، له هلکانو سره په یو ټولګي کې زده کړه په تېره چې د ځینو نجونو جامې ورته له دود او کلتور لرې یا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راللیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د دوی په اند غيرشرعي وبربېښي يا له پرديو هلکانو سره د نجونو خبرې ويني او اوري نو بيا دغه حالت ته غبرګون ان که قهرجن هم وي خپل فرض ګڼي په تېره چې دا کړنې يې د ځينو ټولګيوالو او ان استادانو له هرکلي سره مخ شي، په ځانګړې توګه هغو ټولګيوالو او استادانو چې د قانوني يا ناقانونه افراطي ډلو غړيتوب لري او ددغه ډول کسانو ښکار ته لا واردمخه ځارو او په کمين کې ناست وي.
د محصلينو ليلی افراطي ډلو جلب وجذب له پاره ښه او خوندي ځايونه دي، دا ځکه چې هلته محصلين له يو بل سره د ناستي ولاړې او خبرو اترو له پاره ډېر وخت لري.
قانوني او ناقانونه افراطي ډلې د ديني او مذهبي ورځو په مناسبتونو نمانځنې لکه ميلاد النبي، عاشورا يا نورو په پلمه د نامالومو سرچينو، سوداګرو او پانګوالو په مالي مرسته او يا خپله له استادانو، محصلينو او خلکو پر راټولې شوې چاندې د قران کريم ختمونه او غونډې جوړوي چې له هغو د عبادت پرځای د افراطي فکر خورولو له پاره ګټه اخلي.

## د افراطيت بې اغيزې يا کمزوري کولو په موخه اړينه ده چې:

- په پوهنتونو کې دې يو ځانګړی جوړښت رامنځته چې په منظمه توګه محصلينو په تېره نويو محصلينو د مدني ارزښتونو، زغم او يو بل منلو، جنسيتي برابري او دمکراتيکو ارزښتونو په اړه منظم او د کلتوري او فرهنګي پروګزامونو، غونډو او سيمينارونو له لارې مالومات ورکړي.
- د محصلينو داسي کلتوري، ټولنيز او هنري سازمانونه او بنسټونه جوړ او پياوړي شي چې د افراطي ګروپونو فعاليتونو سره توله برابره کړي البته دا په دې مانا نه ده چې د محصلينو ترمنځ د فکري او فزيکي ټکرونو زمينه برابره نه کړي.
- په ليليو کې مدني فعاليتونو او ان استخباراتي فعاليت ته جدي پام خورا اړين دی ځکه پخوانيو تجربو ښودلې چې ښې او کينو افراطيونو په پخوا کې ډېر جلب او جذب په ليليو کې کړی دی.
- له هغه ځايه چې قانوني او ناقانونه افراطي ډلې په سازماني بڼه فعاليت کوي ياني د يادو ډلو سازمانونه محصلين جلب او جذبوي چې له ترديد پرته سازماني فعاليت د ځانګړو او تيت پرک کسانو او ډلو په پرتله اغيزمن دی نو ځکه خو نه يوازې رسمي بنسټونه بلکې اعتدال پلوي سياسي ګوندونه هم بايد په پوهنتونو کې فعال او خپلې منځ لارې، دمکراتيکې او مدني کړنلارې محصلينو ته ورسوي محصلين جلب او جذب کړي او له دې لارې د افراطي کړنلارو يکه تازي مخه ونيول شي.
- ان که شوني وي په خپله دولت د محصلينو مدني، دمکراتيک او دموکراتيک بنسټونه جوړ، پياوړي او جدي ملاتړ يې وکړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ